**د افغــــــانستان اســــــلامي امـــــارت**

**د ارشـــــاد، حج او اوقـــافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۱ / ربيع الثاني /۱۴۴۶ هـ، ق مطابق ۱۳/ ميزان /۱۴۰۳هـ، ش**

# د صِله رحمۍ پاللو دُنيوې او اُخروې ګټې

**بسم الله الرحمن الرحيم**

الحمد لله الذي خلق من الماء بشرًا ، فجعله نسبًا وصهراً ، وأوجب صلة الأرحام وأعظم في ذلک أجراً ، والصلاة والسلام على سيدنا محمد أرفع الناس ذكرًا ، وعلى آله وصحبه أعظم الأتباع قدراً ، أما بعد :

قال الله سبحانه وتعالى فى كتابه المجيد و فرقانه الحميد: (وَاتَّقُواْ اللّهَ الَّذِي تَسَاءلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا).النساء:(۱)

**درنو محترمو او قدرمنو مسلمانانو! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**

د نورو ټولنو په خلاف اسلامي ټولنه په خپل منځ کې محبت کوونکې او مرسته کوونکې ټولنه ده او الله تعالی غواړي چې د اسلامي ټولنې د افرادو ترمنځ تل وروړګلوي پیاوړې قائمه او دائمه وي او یو له بل سره نیک روابط او صله رحمي ولري، له همدې امله داسلام مقدس دين هر هغه عمل چې خلکو ترمنځ نیک روابط ټينګوي او دمسلمانانو تـرمنځ محبت او تعـاون پیاوړی کوي هغه يې ستايلی دی او حکم يې ورباندې کړی دی او هر هغـه عمـل چـې د خپلوانـو تـرمنځ د شخړو، جنګ جګړو، جداوالي او نفرت باعث ګرځي او دخپلولی روابط له منځه وړي هغه يې حرام او ناوړه ګرځولي دي.

د هغو اعمالو له جملې څخه چې د مسلمانانو ترمنځ خصوصاً د خپلوانـو تـرمنځ مينـه، محبت او تعـاون زيـاتوي هغـه صله رحمي پالل دي . د صله رحمۍ په پاللو الله جل جلاله امر کړی دی او د صله رحمۍ له قطع کولو څخه يې منع کړی ده.

صله رحمي پالل واجب ده او صله رحمـي قطـع کـول کبيـره ګنـاه ده. اللـه جـل جلالـه فرمـايلي دي: (إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ وَإِيتَاء ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاء وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ).النحل:(۹۰)

ترجمه:- بېشکه الله د انصاف کولو او احسان کولـو او خپلوانـو تـه د ورکـړې حکـم کـوي او لـه فحاشـۍ او بـدو کـارونو او سرکشۍ نه منع کوي، هغه تاسو ته وعظ کوي، د دې لپاره چې تاسو نصيحت قبول کړئ

حافظ ابن کثير د(وآت ذا القربى) په معنا کې وايي: أي يأمر بصلة الأرحام. تفسير ابن كثير (۲ /۷۰۹) الله تعالی امر کـوي د صله رحمۍ په پاللو باندې.

په يو مبارک آيت شريف کې راځي: { فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِن تَوَلَّيْتُمْ أَن تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ ، أُوْلَئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَى أَبْصَارَهُمْ } محمد:(۲۲-۲۳)

ترجمه:- نو ايا تاسو، که چېرې حاکمان شئ، دې ته نژدې يئ چې تاسو به په ځمکـه کـې فسـاد وکـړئ او خپـل قرابتونـه (خپلوياني) به پرې کړئ دا هغه کسان دي چې الله په دوی لعنت کړی دی، نو دوی يې کاڼه کـړي دي او د دوی سـترګې يې ړندې کړې دي

د امام ابن عابدين رحمه الله نظر دادی چې د ټولو خپلوانو سره صله رحمي پالل واجب دي که هغه محارم وي او که غیر محارم او امام نووي رحمه الله همدا خبره صواب او سمه ګڼلې ده.رد المحتار (۲۷ /٤٨)
بناءً په خپلوانو کې دپلار له خوا خپلوان او د مور له طرفه خپلوانو ته او خسرخیلو ته شاملیږي.
د صله رحمی د پاللو څخه مراد د خپلوانو سره احسان او نیکي کول او هغوی ته د امکان ترحده خير رسول او له هغوی څخه شر دفع کول دي.او د صله رحمی د قطع کولوڅخه مرادخپلوانوسره بدي کول او دخپلوانو سره روابط پریکول دي
د صله رحمی پالل زیات شکلونه لري؛ لکه پر خپلوانو سلام اچول، خپلوانو ته تحفه او ډالی ورکول، خپلوانو سره مالي مرسته کول، خپلوانو سره د سختی پر وخت کومک کول، د خپلوانو زیارت کول او ورسره مجلس کول، د خپلوانو سره خبرې کول، د هغوی سره نرمي او احسان کول او د خپلوانو غوښتنه نه ردول اوداسې نور. الدر المختار (٦ /٧٣٢)
د خپلوانو میلمستیا کول، د هغوی د حال احوال او مریضانو پوښتنه کول، د خپلوانو په غم او خوشحالی کې برخه اخیستل، د خپلوانو د مشرانو احترام کول، د خپلوانو ترمنځ صلحه کول، د خپلوانو ددعوت استجابت کول.
صله رحمي پالل دا نه ده چې که چیرې خپلوان درسره خپلولي پالي خو ته يې هم ورسره پالې او که چیرې خپلوان درسره مقاطعه کوي نوته هم ورسره مقاطعه کوي،بلکې حقيقي صله رحمي پالل داده چې خپلوان درسره صله رحمي نه پالي اوته يې ورسره وپالې.

په حدیث شریف کې راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« إِنَّ الرَّحِمَ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ وَلَيْسَ الْوَاصِلُ بِالْمُكَافِئِ وَلَكِنَّ الْوَاصِلَ الَّذِي إِذَا انْقَطَعَتْ رَحِمُهُ وَصَلَهَا». مسند أحمد (١١ /٧٧) قال شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح

ژباړه:- د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: خپلولي په عرش پورې زوړنده ده او صله رحمي پالونکی هغه نه دی چې د نورو د صله رحمی په عوض کې صله رحمي کوي؛ بلکې حقيقي صله رحمي پالونکی هغه دی چې که چیرې خپلوان ورسره خپلولي پريږدي هغه ورسره خپلولي وصلوي او صله رحمي پالي.
د صله رحمی د پاللو په اړه زیات آیتونه او ګڼ شمیر احادیث راغلي دي چې ددې موضوع په اهمیت دلالت کوي.
صله رحمي پالل زیاتې دُنیوي او أُخروي ګټې لري چې ځینې يې په لاندې توګه دي:

## ۱- د صله رحمی په پاللو سره د الله جل جلاله محبت تر لاسه کیږي.

په یو قدسي حدیث شریف کې راځي: عن عبادة بن الصامت رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْفَعُهُ إِلَى الرَّبِّ عَزَّ وَجَلَّ قَالَ: «حَقَّت مَحَبَّتِي لِلْمُتَحَابِّينَ فِيَّ وَحَقَّتْ مَحَبَّتِي لِلْمُتَزَاوِرِينَ فِيَّ، وَحَقَّتْ مَحَبَّتِي لِلْمُتَبَاذِلِينَ فِيَّ، وَحَقَّتْ مَحَبَّتِي لِلْمُتَوَاصِلِينَ فِيَّ» مسند أحمد مخرجا (٣٦ /٣٩٩) وصححه ابن حجر فی الفتح.
ژباړه:- د عباده بن صامت رضي الله عنه څخه روایت دی هغه له نبي علیه السلام څخه روایت نقلوي او نبي علیه السلام وایې چې رب تعالی فرمایلي دي: واجب شوی دی محبت زما د هغو خلکو لپاره چې یو له بل سره محبت کوي زما په خاطر (یعنې زما د رضا حاصلولو لپاره) او واجب شوی دی زما محبت د هغو خلکو لپاره چې په خپلو منځونو کې ملاقاتونه کوي زماپه خاطر او واجب شوی دی محبت زما د هغو خلکو لپاره چې یو د بل لپاره خرڅ کوي(یعنې د خپل مسلمان ورور دحاجت پوره کولو لپاره خپل ځان هم زحمت ته ورکوي او خپل مال هم خرڅ کوي) زما په خاطر او واجب شوی دی محبت زما د هغو خلکو لپاره چې په خپل منځ کې صله رحمي کوي او روابط ساتي زما په خاطر.

په پورتني قدسي حديث شريف کې الله تعالی پر خپل ځان تفضلاً د هغو خلکو سره محبت کول واجب کړی دی چې يو له بل سره صله رحمي پالي.

## ٢- صله رحمي پالل د کامل ايمان علامه ده.

په حديث شريف کې راځي:عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:«مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَـوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ»صحيح البخاري (١٥ /٣٧٤)

ژباړه:- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه دنبي عليه السلام څخه روايت نقلوي چې نبي عليه السلام وفرمايل:څوک چې په الله تعالی(کامل) ايمان لري او په آخرت ايمان لري،نو هغه دې د خپل ميلمه قدر وکړي او څوک چې په الله تعالی او د آخرت په ورځ
(کامل) ايمان لري ، نو رابطه دې وتړي له خپلوانو سره يعنې صله رحمي دې وکړي.

## ٣- صله رحمي پالل جنت ته دداخليدو سبب دی.

الله تعالی به جنت ته هغه کسان داخل کړي چې صله رحمي يي پاللې وي .الله جل جلاله فرمايلي دي: ﴿ وَالَّذينَ يَصِلونَ ما أَمَرَ اللَّـهُ بِهِ أَن يوصَلَ وَيَخشَونَ رَبَّهُم وَيَخافونَ سوءَ الحِسابِ * وَالَّذينَ صَبَرُوا ابتِغاءَ وَجهِ رَبِّهِم وَأَقامُوا الصَّلاةَ وَأَنفَقوا مِمّا رَزَقناهُم سِرًّا وَعَلانِيَةً وَيَدرَءونَ بِالحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ أُولـئِكَ لَهُم عُقبَى الدّارِ ﴾ [الرعد: (٢١-٢٢)

ترجمه:- او هغه کسان چې هغه څه وصل کوي چې الله د هغه د پيوست ساتلو حکم کړی دی او له خپل رب څخه ويرېږي او له بد حساب نه ويره کوي او هغه کسان چې د خپل رب د مخ لټونې لپاره يې صبر کړی دی او لمونځ يې قايم کړی دی او له هغه څه نه يې چې مونږ ورته ورکړي دي؛ په پټه او ښکاره انفاق کړی دی او هغوی په نېکۍ سره بدي دفع کوي دغه کسان چې دي د دوی لپاره د اخرت ښه انجام دی په حديث شريف کې راځي:عَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ الْمُجَاشِعِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-قَالَ ذَاتَ يَوْمٍ فِي خُطْبَتِهِ.. وَأَهْلُ الْجَنَّةِ ثَلاَثَةٌ ذُو سُلْطَانٍ مُقْسِطٌ مُتَصَدِّقٌ مُوَفَّقٌ وَرَجُلٌ رَحِيمٌ رَقِيقُ الْقَلْبِ لِكُلِّ ذِى قُرْبَى وَمُسْلِمٍ وَعَفِيفٌ مُتَعَفِّفٌ ذُو عِيَالٍ».مسلم (٨ /١٥٨)

ژباړه:- د عياض بن حمار مجاشعي رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل يوه ورځ په خطبه کې ... او جنتيان درې (قسمه) کسان دي: (لومړی) خاوند د سلطنت چې عادل وي او خيرات کوونکی وي او په نيکو کارونو کې موفق او کامياب وي او (دوهم) هغه سړی دی چې مهربانه وي د نرم زړه والا وي په هر خپلوان باندې او مسلمان باندې او(دريم) هغه سړی چې د ګناه او حرامو څخه ځان ساتونکی وي او د سوالګرۍ څخه ځان ساتي او خاوند دعيال وي.

په يو بل حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِي أَيُّوبَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الجَنَّةَ، قَالَ: مَا لَهُ مَا لَهُ. وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « أَرَبٌ مَا لَهُ، تَعْبُدُ اللَّهَ وَلاَ تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلاَةَ، وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ، وَتَصِلُ الرَّحِمَ». صحيح البخاري (٢ /١٠٤)

ترجمه:- د ابو ايوب انصاري رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې يو سړي نبي عليه السلام ته وويل: ما خبر کړه په يو داسې عمل چې ما داخل کړي جنت ته (قوم وويل) دا سړی څه کوي ! دا سړی څه کوي! او نبي عليه السلام وفرمايل: دی يو ضروري جاجت لري، (بيا يي ورته وفرمايل) ته به دالله تعالی عبادت کوئ او شريک به نه نيسئ له هغه سره او اقامه د لمانځه به کوئ او زکات به ورکوئ او صله رحمي به پالئ.

## ۴- صله رحمي پالل د رزق د پراخۍ او د عمر د زیاتوالي سبب دی.

په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:« مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ أَوْ يُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ».صحيح البخاري ت (٥ /٢٣٥)

ژباړه:- د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل:څوک چې په دې خوشحاله کیږي چې په رزق کې یې پراخي راوستل شي او وروسته کړل شي مرگ دده،نو صله رحمي دې وپالي.

د ترمذي او احمد په روایت کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« تَعَلَّمُوا مِنْ أَنْسَابِكُمْ مَا تَصِلُونَ بِهِ أَرْحَامَكُمْ فَإِنَّ صِلَةَ الرَّحِمِ مَحَبَّةٌ فِي الْأَهْلِ مَثْرَاةٌ فِي الْمَالِ مَنْسَأَةٌ فِي الْأَثَرِ» سنن الترمذي (٤ /٣٥١)، مسند أحمد بن حنبل-ن (٢ /٣٧٤) تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده حسن

ژباړه:- د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه د نبي علیه السلام څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام وفرمایل: زده کړئ د نسب څخه هغه چې تاسې ور باندې صله رحمي وپالئ ځکه صله رحمي پالل (سبب ) دمحبت دی د اهل سره او سبب د زیاتوالي د رزق دی او سبب دی د وروسته والي د مرگ.

(منسأة) له نسأ څخه اخیستل شوی دی تاخیر ته ویل کیږي . او (الأثر) اجل ته ویل کیږي .یعنې صله رحمي سبب د تاخیر د اجل دی او دعمر د زیاتوالي موجب دی. مرقاة المفاتيح (١٤/ ٢١٣) په اصل کې اثر په ځمکه باندې د قدمونو نښو ته ویل کیږي ،نو څوک چې ژوندکوي نو اثر به یې پاتې کیږي ، پس دچاچې (اثر) وروسته کیږي نو معنا داچې عمر یې زیاتیږي.

په حدیث شریف کې د عمر زیاتوالی یا خو په حقیقت بناء دی او یا ور څخه مجاز مراد دی. په دې معنا چې څوک صله رحمي پالي الله تعالی به په عمر او رزق کې برکت واچوي او الله تعالی به ددې توفیق ور په برخه کړي چې د شلو کلونو په عمر کې به د پنځوسو کلونو په اندازه نیک اعمال وکړي لکه دامام نووي رحمه الله د عمر په څیر چې د پنځوسو کلونو په عمر کې د سلو کلونو د عمر په اندازه تالیفات کړي دي .

او همداراز الله تعالی به یې په رزق کې برکت واچوي او لس زره افغانۍ به یې دټولو ضرورتونو لپاره کفایت کوي او د هغو سلو زرو افغانیو څخه به ډیرې ښې وي چې برکت په کې نه وي او په سلو زرو د ژوند اړتیاوو لپاره بسنه نه کوي بلکې په سلو زرو کې هم قرضداره وي؛ ځکه خو نبي علیه السلام به دادعاء کوله : (اللهم اكفني بحلالك عن حرامك وأغنني بفضلك عمن سواك ). سنن الترمذي (٥ /٥٦٠)

## ۵- صله رحمي پالل د الله تعالی سره د رابطې ساتلو سبب دی.

په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« إِنَّ الرَّحِمَ شَجْنَةٌ مِنْ الرَّحْمَنِ فَقَالَ اللَّهُ مَنْ وَصَلَكِ وَصَلْتُهُ وَمَنْ قَطَعَكِ قَطَعْتُهُ». صحيح البخار (١٥ /١٥٧)

ژباړه:- د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه له نبي علیه السلام څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام وفرمایل: بیشکه صله رحمي (خپلولي) د رحمن له کلمې څخه اخیستل شوی دی . الله تعالی (صله رحمۍ ته ) وویل:

څوک چې تا وصل کوي زه به يي هم وصل کړم (له خپل رحمت سره) او څوک چې تا قطع کوي ، زه به يې هم قطع کړم (له خپل رحمت څخه).مرقاة المفاتيح (٧ /٣٠٨٥)

ددې حديث څخه په استدلال سره علماء كرام وايي چې صله رحمي قطع کول کبيره گناه ده؛ ځکه چې په دې حديث کې سخت وعيد راغلی دی د قطع کولو د صله رحمۍ په باره کې.

**٦- صله رحمۍ پالل کورونه او ښارونه آبادوي.**

د صله رحمۍ په پالو سره کورونه آباديږي او ښارونه آباديږي او هر ډول فساد له منځه ځي. په حديث شريف کې راځي: عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهَا:« إِنَّهُ مَنْ أُعْطِيَ حَظَّهُ مِنْ الرِّفْقِ فَقَدْ أُعْطِيَ حَظَّهُ مِنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَصِلَةُ الرَّحِمِ وَحُسْنُ الْخُلُقِ وَحُسْنُ الْجِوَارِ يَعْمُرَانِ الدِّيَارَ وَيَزِيدَانِ فِي الْأَعْمَارِ». مسند أحمد (٤٢ /١٥٣) ووثق رجاله ابن حجر فی الفتح.

ژباړه:- له حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې بيشکه رسول الله صلی الله عليه وسلم هغې ته وفرمايل: بيشکه چاته چې ورکړل شو يو څه حصه له نرمۍ څخه ، په تحقيق سره ورته ورکړل شو خير ددنيا او آخرت څخه او صله رحمي پالل او نيک اخلاق او نيک گاونډيتوب آبادوي کورونو لره او زياتوي عمرونو لره.

**٧- صله رحمي پالل د گناهونو د مغفرت او ښښنې سبب دی. په صله رحمۍ سره الله تعالی د بنده گناهونه ښښي.**

په يو حديث شريف کې راځي: عَنْ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أَصَبْتُ ذَنْبًا عَظِيمًا فَهَلْ لِي تَوْبَةٌ؟ قَالَ: «هَلْ لَكَ مِنْ أُمٍّ؟» قَالَ: لَا، قَالَ: «هَلْ لَكَ مِنْ خَالَةٍ؟» قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: «فَبِرَّهَا» سنن الترمذي (٤ /٣١٤)

ژباړه:- د عبدالله بن عمررضي الله عنهما څخه روايت دی هغه وايې: يو سړی نبي عليه السلام ته راغی او ورته يي وويل: ای دالله رسوله! له ما څخه ډيره لويه گناه شوی ده آيا زما لپاره توبه شته؟ نبي عليه السلام ورته وويل: آيا ستا مور شته ؟ هغه سړي وويل: نه! ، بيا نبي عليه السلام ورته وفرمايل: آيا ستا ترور (د مور خور) شته؟ هغه سړي وويل: هو! ترور مې شته. نبي عليه السلام ورته وفرمايل: بس له هغې سره نيکي کوه.

په پورتني حديث شريف کې نبي عليه السلام هغه سړي ته د هغه د لوی گناه د ښښلو لار د ترور سره نيکي کول ور وښودل.

**٨- صله رحمي پالل د بد او ناوړه مرگ څخه د نجات سبب دی. څوک چې صله رحمي پالي الله تعالی به د ناوړه مرگ څخه وساتي.**

په حديث شريف کې راځي:عَنْ عَلِيٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُمَدَّ لَهُ فِي عُمْرِهِ، وَيُوَسَّعَ لَهُ فِي رِزْقِهِ، وَيُدْفَعَ عَنْهُ مِيتَةُ السُّوءِ، فَلْيَتَّقِ اللَّهَ وَلْيَصِلْ رَحِمَهُ» مسند أحمد مخرجا (٢ /٣٨٧) إسناده قوي، وجوَّده المنذري في الترغيب والترهيب ٣٣٥/٣

ژباړه:- د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی هغه له نبي عليه السلام روايت کوي چې نبي عليه السلام وفرمايل: چا لره چې دا خبره خوشحاله کوي چې اورد کړل شي د هغه عمر او پراخي راوستل شي د هغه په رزق کې او دفع کړل شي له هغه څخه بد مرگ ، نو هغه دې وويريږئ له الله تعالی څخه او صله رحمي دې وپالئ.

د بد او ناوړه مرگ څخه هغه مرگ مراد دی چې نبي عليه السلام ورڅخه پناه غوښتې ده لکه په اور سوزيدل، له لوړې راوليدل، دمرگ په وخت کې د شيطان په وجه د ماغزو خرابوالی، دگناه او نشې په حالت کې مرگ،د تيغ زندې مرگ، په جهاد کې د تيښتې په وخت کې مرگ او داسې نور.تحفة الأحوذي (٣ /٢٦٦)

## ۹- صله رحمي پالل به په قيامت کې د صله رحمي پالونکي لپاره ګواهي ورکوي.

صله رحمي به په قيامت کې د صله رحمي پالونکي لپاره شاهدي او ګواهي ورکوي او معلومه خبره ده چې د چا لپاره صله رحمي ګواهي ووايي هغه به کامياب وي او پر چا باندې چې صله رحمي ګواهي ورکړي چې هغه يي قطع کړی ده نو هغه کس به ناکام او په زيان کې وي.په يو موقوف حديث کې راځي: عن ابن عباس رضي الله عنه أنه قال:(وکلُّ رحم أتيةٌ يوم القيامة أمام صاحِبها تشهد له بصلةٍ، إن كان وصلها، وعليه بِقَطيعةٍ إن كان قطعها )الأدب المفرد بالتعليقات(ص: ۱۷)

ژباړه: د عبدالله بن عباس رضي الله عنه روايت دی چې هغه وويل: او هره صله رحمي به راشي د قيامت په ورځ د خپل صاحب په وړاندې او د هغه لپاره به د صله رحمی په پاللو شهادت ورکوي که چيرې صله رحمي يې پاللې وه او دهغه پر ضد به ګواهي ورکړي

که چيرې يې صله رحمي قطع کړی وه.

## ۱۰- هغه چاچې صله رحمي پاللي وي هغه ته به په پل صراط باندې د تيريدو پر وخت کوم مشکل نه وي.

د آخرت په ورځ به پل صراط د جهنم په زړه باندې کيښودل شي او صله رحمي او امانت به د انسان په شکل کې د پل صراط په خوا کې په يوه طرف او بل طرف کې ولاړ وي او صله رحمي او امانت به د شاهدانو او د خپلو حقوقو غوښتونکو په طور د پل صراط په غاړو ولاړ وي.او هغه کسان چې صله رحمي يي پاللې وي او امانت يي نه وي ضائع کړی د هغوی په اړه به صله رحمي او امانت د خپل حق غوښتنه نه کوي. دصحيح مسلم د شفاعت کبری د هغه مشهور حديث په يوه برخه کې راځي: (وَتُرْسَلُ الْأَمَانَةُ وَالرَّحِمُ، فَتَقُومَانِ جَنَبَتَي الصِّرَاطِ يَمِينًا وَشِمَالًا، فَيَمُرُّ أَوَّلُكُمْ كَالْبَرْقِ " قَالَ: قُلْتُ: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي أَيُّ شَيْءٍ كَمَرِّ الْبَرْقِ؟ قَالَ: " أَلَمْ تَرَوْا إِلَى الْبَرْقِ كَيْفَ يَمُرُّ وَيَرْجِعُ فِي طَرْفَةِ عَيْنٍ؟ ثُمَّ كَمَرِّ الرِّيحِ، ثُمَّ كَمَرِّ الطَّيْرِ، وَشَدِّ الرِّجَالِ، تَجْرِي بِهِمْ أَعْمَالُهُمْ وَنَبِيُّكُمْ قَائِمٌ عَلَى الصِّرَاطِ يَقُولُ: رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ، حَتَّى تَعْجِزَ أَعْمَالُ الْعِبَادِ، حَتَّى يَجِيءَ الرَّجُلُ فَلَا يَسْتَطِيعُ السَّيْرَ إِلَّا زَحْفًا).صحيح مسلم (۱ /۱۸۷)

ژباړه:- او را وبه ليږل شي امانت او صله رحمي او وبه دريږي په دواړو غاړو د پل صراط باندې ښي طرف ته او چَپ طرف ته، نو ستاسې لومړني کسان به لکه د برق په څير تيرشي.ابوهريره رضي الله عنه وايي ماوويل: زما پلار او مور دې له تا قربان شي (يارسول الله) څنګه به وي په شان د تيريدو د برق ؟ نبي عليه السلام ورته وويل: آيا تاسو نه ګوری برق ته چې څرنګه تير شي او بيا راوګرځي په رَپ د سترګې کې؟ بيا به تيرشي (نور کسان) په شان دهواء (يعنې لړ په کلاره) بيا به (نور کسان تيرشي)په شان دتيريدو د مارغانو او تړل د سړو به (له دې امله وي) چې جاري کيږي به په دوی ددوی اعمال يعنې دچا اعمال چې قوي وي د هغو تيريدل به هم تيز وي او دچا اعمال چې کمزوري وي د هغوی تيريدل به هم کمزوري وي او ستاسې نبي به ولاړ وي په پل صراط باندې وايې به :ای ربه! ته يي وساتئ ته يې وساتئ، تر دې پورې چې د بندګانو اعمال به عاجزه شي او رابه شي يو سړی نو هغه به په پل صراط نشي- تيريدلی؛ مګر د ګُناټو په کشولو سره.